(١)

**د آفت د له منځه وړلو لپاره ښکاره او پټ اسباب او د حاکم د تابعدارۍ لازم والی**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **«رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» ژباړه: «"ای زموږ ربه! پر همدا تا باندې موږ توکُل وکړ او همدا ستا لوري ته مو رجوع وکړه او همدا ستا حضور ته بيا زموږ درګرځېدل دي»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندې چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

وبا او آفت د الله تعالی له لوري په مخلوقاتو کې رامنځته کيږي لکه چې الله تعالی فرمايي: «إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا» ژباړه: «موږ انسان له يوې ګډې شوې نطفې څخه پيدا کړ، تر څو چې هغه وازمايو؛ او د دې غرض لپاره موږ هغه اورېدونکي او ليدونکي وګرځاوه».

الله تعالی د وبا او آفت د له منځه وړلو لپاره ښکاره او پټ اسباب رامنځته کړې، که ظاهری يا ښکاره اسابو ته وګورو چې لازمه ده دا پلي کړای شي هغه د علم اسباب دي او همدارنګه د متخصصينو لارښوونې دي چې بايد په ځان پلي کړای شي همدارنګه هغه لارښووني عملي کړو چې د دولت د رسمي ادارو څخه صادريږي ځکه د ولی الامر يا د چارو د سمبالوونکی اطاعت او تابعداری لازمه ده الله تعالی پدې هکله فرمايي: «وَأَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنْكُمْ» ژباړه: «د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسي څخه د امر خاوندان وي»، په

بل ځای کې فرمايي: «فَاسْئَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ» ژباړه: «که تاسي ته معلومه نه وي، نو له اهل کتابو څخه پوښتنه وکړئ»، نو د پوهي خاوندان دلته هر هغه څوک دي چې پخپل تخصص کې ځانګړتيا ولري نو همدې لپاره په شريعت کې جائزه نده چې د دولت د ادارو څخه د کومې اداري د لاربنوونو څخه سرغړونه وشي.
د ظاهرو او ښکاره لاملونو څخه بل هم دا دی چې د نظافت او پاکۍ ته پاملرنه وشي د اسلام مبارک دين پاکوالي ته ډير اهميت ورکړی او دا يي يو شرعي ضرورت ګرځولی دی چې انسان پري د ناروغيو او ضررونو څخه ځان وساتې الله تعالی فرمايي: « إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ» ژباړه: « د الله هغه خلك خوښيږي چي له بدیٔ څخه لاس واخلي او سپيڅلتياغوره کړي.»، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي: پاکوالی د ايمان برخه ده همدارنګه په نورو حديثونو کې يي هم ټينګار کړی چې کور مکتب فابريکی لارو ډګرونو او د نورو سيمو د پاکۍ پاملرنه وشي.
همدارنګه د اسلام مبارک دين د لاسونو وينځلو ته ځانګړی پاملرنه کړې ده ځکه چې دا د هر اودس پر مهال وينځل کيږې لکه چې الله تعالی فرمايي: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا» ژباړه: «ای مؤمنانو! کله چي تاسي د لمانځه لپاره پاڅيږئ؛ (او بې اودسه ياست) نو بايد چي خپل مخونه او لاسونه تر څنګلو پوري ووينځئ، پر سرونو باندي لاسونه را کاږئ او پښې تر پړکېو (بيچلکو) پوري ووينځئ. او که د جنابت په حال کښي ياست؛ نو په لمبلو (غسل کولو) ځان پاك کړئ.»، نو دلاسونو وينځل د مړوندونو سره يوځای د اودس د فرائضو څخه ګڼل کيږي همدارنګه د اوداسه په پيل کې سنت طريقه دا ده چې لاسونه درې کرتي ووينځل شې بيا به درې ځأي غړ غړه وکړې بيا پوځه پري وينځل بيا د مخ لاسونو او د پښو پري مينځل فرض

دي، همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې په تاسو کې کوم یو له خوبه پاځیږي تر هغه دې خپل لاس په لوخې کې نه ښکته کوي ترڅو چې یي در ځأې وینځلی نه وي، همدارنګه د ډوډۍ د خوړلو څخه مخکې او رووسته لاس پري مینځل مستحب دې نو پدې کې ددې ښودنه شوی چې د دین او د علم ترمنځ هیڅ ټکر نشته ځکه د انسان د روغتیا ساتنه د ادیانو د لویو مقاصدو څخه شمیرل کیږي لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: نه به چاته زیان رسوي او مه څوک پریږده چې تاته زیان ورسوي، نو باید د ټولو هغو وقایوي تدابیرو تابعداري وکړو چې د ناروغیو او آفتونو د خبءاوې مخنیوی کوی چې لدې جملې څخه د غاړط ورکولو ښکلولو لاس ورکولو څخه ډډه وکړو او د ګڼې ګوڼې ځایونو څخه ځانونه وساتو.
همدارنګه مونږ پدې باندې ټینګار کوو چې د آفتونو او سختۍ په وختونو کې د خلکو اصلیت معلومیږي او د هغوی د حقیقی اخلاقو ښودنه کیږي نو مونږ او تاسو ټولوته لازمه ده چې پخپلو منځو کې ترحم وکړو د ځان ځانی او د احتکار څخه ځان وژغورو هغه که د خرڅوونکي له اړخه وي او که د پیریدونکې اړخ څخه پدې هکله نبی کریم صلی الله علیه وسلم په بیلابیلو احادیثو کې په همدې باندې ټینګار کړی لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: احتکار کوونکی باندی لعنت ویل شوی او په بل حدیث کط فزمایي: په تاسو کې یو څوک تر هغه کامل مومن نشی کیدلای ترڅو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نکړې چې د خپل ځان لپاره خوښوي.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی

چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.
**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**
اما باطنی يا پټ اسباب او لاملونه چې هميشه بايد مونږ هغي ته پاملرنه ولرو په الله تعالی باندي توکل کول دې الله تعالی فرمايي: « فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ» ژباړه: « نو پر الله توکُل وکړه. د الله هغه خلك خوښيږي چي د هماغه په ډاډينه کار کوي.»، په الله باندي توکل کول د اسبابو د نيوني سره په هيڅ ډول ټکر کې نه راځې يو سړې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته وويل زه خپله اوښه وتړم بيا په الله توکل وکړم او که خلاص يې پريږدم او په الله توکل وکړم ورته يي وفرمايل ويي تړه بيا په الله توکل وکړه، نو مونږ ته هم اوس لازمه ده چې د اسبابو نيونه وکړو او علمې اړخ څخه احتياط وکړو بيا خپله چاره الله ته وسپارو ځکه هر څه د هغه په لاس کې دې نو پدې سره بيا توکل خپله معنی ورکوي.
همدارنګه لدي جملي څخه بل هم الله تعالی ته دعاء او زاری کول راځې چې بياد ترسره کړو لکه چې الله تعالی فرمايي: « فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا» ژباړه: «نو کله چې زموږ له لوري پر هغو سختي راغله، نو هغوی ولي عاجزي غوره نه کړه؟ »، نو مونږ ټول ديته اړتيا لرو چې الله تعالی ته دعا او عاجزې وکړو ترڅو دغه آفت زمونږ له هيواد خلکو او د ټولي نړۍ څخه لرې کړې او اوس ښه فرصت ددې دی چې هر يو په مونږ کې خپلې اړيکې الله تعالی سره وتړي.
همدرانګ لدې جملي څخه بل هم دا دی چې مونږ خپل نفسونه د الله تعالی په ذکر باندي خوندې کړو نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: که يو څوک سهار او ماښام دا دعاء بِسْمِ اللهِ الَّذي لا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ در ځلي ووايي نو هيڅ زيان

ورته نشي رسيدلای، همدارنګه په بل حديث کي فرمايي: څوک چې دا دعا عُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ  ووايی نو هيڅ شی ورته زيان نشي رسولای، همدرانګه لدې جملي څخه بل هم صدقه ده چې بايد ورکړل شي لکه چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: خپل مالونه په زکات باندي خوندي کړئ او خپلو ناروغانو دوا په صدقه باندې وکړئ او د آفت لپاره دعا چمتو کړئ.

الله تعالی دې زمونږ ساتنه وکړي او زمونږ له سرون څخه دې شر ليري کړې

او زمونږګران هيواد د نړۍ نورو هيوادونو سره يو ځاي په امن کي وساتي.